د دوو مکتبونو په کتابونو کښې

# د تطهیر آیت

لیکوال: علامه سید مرتضي عسکري
ژباړه: محمدرحیم دراني

Aghalibrary.com

# د مهربان اوو بخښونکي خداي په نامه

بسم الله الرحمن الرحیم.

إنّما یُرِیدُ الله لِیُذهِبَ عَنکُمُ الرِجسَ أهْلَ البَیتِ وَ یُطَهِرکُمْ تَطْهِیْراً په تحقیق سره خداې غواړي هر یوه پلیتي او ګناه له تاسو اهلبیتو لیرې کړي او تاسو پاک او پاکیزه وګرځوي.

(احزاب/۳۳)

Download From; Aghalibrary.com

# لړلیک

د خلفاؤ د مکتب په مدارکو کښې د تطهير آيت ..................... ۵
پيغمبر اکرم(ص) او د الهی رحمت نازليدا ..................... ۵
د ام سلمه په روايت د عبا ډول: ..................... ۸
تر عبا لاندې د اهل بيتو د کښيناستلو څرنګوالے ..................... ۸
د واثلة بن اسقع او ام سلمة حديث: ..................... ۱۰
د ام سلمة په حديث د غونډيدا ځاې ..................... ۱۲
د آيت د نازليدا په وخت د اهل بيتو حال ..................... ۱۴
په روايتونو کې د تطهير آيت تفسير ..................... ۱۹
د آيت په نازليدا پسې د پيغمبر اکرم(ص) چلند ..................... ۲۲
د اهل بيتو د فضيلتونو په اثبات کښې د تطهير آيت تائيد کوونکي: ..................... ۲۲
الف: حسن بن علي(ع) ..................... ۲۲
ب: ام سلمة ..................... ۲۸
ج: سعد بن ابي وقاص ..................... ۲۹
د: ابن عباس ..................... ۳۱
هـ: واثلة بن اسقع ..................... ۳۳
و: على بن الحسين، امام سجاد(ع) ..................... ۳۶
د اهلبيتو د مکتب په کتابونو کښې د تطهير آيت ..................... ۳۹
د آيت د نازليدا شان او د کساء حديث ..................... ۳۹
۱: د ام المؤمنين ام سلمة روايت ..................... ۳۹
الف: د شهر بن حوشب له لارې ..................... ۳۹

Download From; Aghalibrary.com

ب: د ابي عبد الله جدلي له لارې ........................ ۴۱
ج: د ام سلمة د غلام عبد الله بن معين له لارې ............ ۴۲
د: د دعبل د ورور له لارې.............................. ۴۳
۲. د حسين بن علي(ع) روايت.............................. ۴۴
۳. د ابو سعيد خدري روايت .............................. ۴۴
الف: پخپله له ابو سعيده ............................... ۴۴
ب: له عطيه ............................................ ۴۵
۴. له ابو جعفر امام باقر(ع) څخه ........................ ۴۵
۱. د ابو سعيد خدري له قوله:............................ ۴۷
۲. د ابو الحمراء له قوله................................ ۴۷
۳. د امير المؤمنين له قوله............................. ۴۸
۴. د امام باقر(ع) له قوله ............................... ۴۹
۵. د امام صادق(ع) له قوله ............................. ۵۱
د اهلبيتو په فضائلو کښې د تطهير آيت تائيدوونکي ........ ۵۳
۱. امير المؤمنين على بن ابي طالب(ع) ..................... ۵۳
۲. امام حسن بن على عليهما السلام........................ ۵۳
۳. ام سلمة ............................................ ۵۵
۴. علي بن الحسين، امام سجاد (ع) ....................... ۵۶
۵. زيد ين على بن الحسين(ع) ........................... ۵۸

*Download From; Aghalibrary.com*

# د خلفاؤ د مکتب په مدارکو کښې د تطهیر آیت

## پیغمبر اکرم(ص) او د الهی رحمت نازلیدا

حاکم[1] "په حدیث کښې د صحیحینو مستدرک" نومې کتاب کښې له عبدالله بن جعفر[2] څخه روایت کوي چې ویې ویل: د خداې رسول (ص) کله چې الهی رحمت د نازلیدا په حال کښې ولیدۀ، نو ویې فرمایل: زما خوا ته یې راوغواړئ، زما خوا ته یې راوغواړئ، صفیه وویل: اې د خداې رسوله! څوک؟

ویې فرمایل: "زما اهلبیت، علي، فاطمه، حسن او حسین".

1. حاکم ابو عبدالله محمد بن عبدالله نیشاپوري (وفات۴۱۵ھ) د اهل سنتو د محدثانو امام دے، د حاکم عنوان د اهل سنتو د محدثانو تر ټولو لوړه رتبه شمیرل کیږي او لومړی رتبه د هغوي په نزد د محدث ده، بیا حافظ، وروسته حجت او له هغه وروسته حاکم، مراجعه وکړئ: المختصر في علم الرجال الاثر، ۷۱مخ.

2. عبدالله بن جعفر ذوالجناحین (جعفر طیار) د ابو طالب زوے، او مور یې اسماء بنت عُمیس خثعمي وه، په حبشې کښې وزیږیدۀ او پیغمبر اکرم(ص) یې درک کړ، له اتیایم هجري کاله وروسته وفات شو.

د هغه د ژوند شرح د اسد الغابة د دریم ټوک په ۳۳مخ راغلي ده،

Download From; Aghalibrary.com

هغوي راغلل او پیغمبر اکرم(ص) خپله عبا پر هغوي وغوړوله، بیا یې لاسونه پورته کړل او عرض یې وکړ: "اې خدایه! دا زما اولاد دے،نو پر محمد او ال محمد درود واستاوه". په دغه وخت کښې پاک خداې دا آیت نازل کړ:إنّما یُرِیدُ الله لِیُذهِبَ عَنکُمُ الرِجسَ أهْلَ البَیتِ وَ یُطَهِرکُمْ تَطْهِیْراً

په تحقیق سره خداې غواړي هر یوه پلیتي او ګناه له تاسو اهلبیتو لیرې کړي او تاسو پاک او پاکیزه وګرځوي.

(احزاب/۳۳)

حاکم وایي: د دغه حدیث سندونه صحیح دي.[۱]

د عایشې[۲] په روایت کښې د کساء(عبا یا څادر) ډول:

---

۱. پر صحیح مسلم او بخاري د حاکم مستدرک، دریم ټوک ۱۴۷ او ۱۴۸مخونه.

۲. د ابوبکر لور عایشه د پیغمبر اکرم(ص) ماندینه چې له هجرته اتلس میاشتې وروسته یې خپل کور ته راوستله او په ۵۷ یا ۵۸ او یا هم ۵۹ هجري کال کښې له دنیا لاړه، ابوهریره پرې لمونځ وکړ او په بغیع هدیرې کښې ښخه کړای شوه، د ژوند شرح یې په "تاریخ اسلام کښې د عایشې رول" نومې کتاب کښې لوستلے شئ.

Download From; Aghalibrary.com

مسلم په صحيح، حاكم په مستدرک، بيهقي په سنن كبرى او طبري، ابن كثير او سيوطي په خپلو تفسيرونو كښې روايت كړے دے.[۱]

يو سهار د خداې رسول د تورو وړلو له عبا سره بهر راغے، حسن بن علی راورسيدۀ، هغه يې له ځان سره تر عبا لاندې كړ، بيا حسين راغے، هغه يې هم داخل كړ، ورپسې فاطمه راغله، هغه يې هم تر عبا لاندې كړه، بيا علی(ع) راغے هغه يې تر عبا لاندې راوستۀ او ويې فرمايل:

إنّما يُريدُ الله لِيُذهِبَ عَنكُمُ الرِجسَ أهْلَ البيتِ وَ يُطَهِركُمْ تَطْهِيْراً

په تحقيق سره خداې غواړي هر يوه پليتي او ګناه له تاسو اهلبيتو ليرې كړي او تاسو پاک او پاكيزه وګرځوي.

---

۱. صحيح مسلم باب "فضائل اهلبيت النبی(ص)، اووم ټوک ۱۳۰مخ، پر صحيح مسلم او بخاري د حاكم مستدرک، دريم ټوک ۱۴۷مخ، سنن الكبرى بيهقي، باب "بيان اهلبيته والذّينَ هم آله" دوهم ټوک ۱۴۹مخ، تفسير طبري ۲۲ټوک ۵مخ، تفسير ابن كثير، جامع البيان، دريم ټوک ۴۵۸مخ، جامع الاصول، ۱۰ټوک ۱۰۱او ۱۰۲مخ، تفسير الوصول، دريم ټوک ۲۹۷مخ، او تفسير سيوطي، الدرالمنثور، پينځم ټوک ۱۹۸ او ۱۹۹مخونه.

*Download From; Aghalibrary.com*

## د ام سلمه په روایت د عبا ډول:

طبري او قرطبی د آیت په تفسیر کښې له ام سلمة روایت کوي چې ویې ویل: کله چې د " إنّما یُرِیدُ الله لِیُذهِبَ عَنکُمُ الرِجسَ" آیت نازل شو، د خدای رسول(ص) علی، فاطمه، حسن او حسین(ع) راوبلل او خیبري عبا یې پرې وغوړوله[۱] په بل حدیث کښې یې ویلي دي: خپله عبا یې پر هغوي وغوړوله.[۲]

## تر عبا لاندې د اهل بیتو د کښیناستلو څرنګوالے

الف: د عمر بن ابی سلمة[۳] په روایت:

طبري او ابن کثیر په خپلو تفسیرونو، ترمذي په صحیح او طحطاوي په مشکل الاثار کښې له عمر بن ابی سلمة څخه

۱. دا حدیث "ابو سعید" له ام سلمة روایت کړے دے، تفسیر طبري ۲۲ټوک ۲مخ.

۲. دغه حدیث "شهر ابن حوشب" له ام سلمة روایت کړے دے، تفسیر طبري، ۲۲ټوک ۲مخ، ابن کثیر هم د خپل تفسیر د دریم ټوک په ۴۸۵مخ ورته اشاره کړې ده.

۳. عمر بن ابو سلمة قرشي مخزوني د پیغمبر اکرم(ص) د ماندینې "ام سلمة" زوے، په حبشې کښې وزیږیدۀ، په صفین کښې د امام علي(ع) ملګرے ؤ او امام علي(ع) هغه د بحرین او فارس په واکمنۍ وټاکۀ، په ۸۳هجري کال کښې په مدینې کښې وفات شو، اسد الغابه، څلورم ټوک، ۷۹مخ.

روايت کوي چې ويې ويل: دغه آيت "إنّما يُرِيدُ الله لِيُذهِبَ عَنكُمُ الرِجسَ" د ام سلمة په کور کښې پر پيغمبر اکرم(ص) نازل شو او هغه مبارک حضرت حسن، حسين او فاطمه راوبلل او له ځان سره مخامخ يې کښينول او علی يې راوبالۀ او له ځانه وروسته يې کښيناوۀ بيا يې پر ځان او هغوي عبا واچوله او ويې ويل: دا زما اهل بيت دي (يعني زما کورنۍ ده) نو رجس او پليتي له هغوي ليرې کړه او پاک او پاکيزه يې وګرځوه، د ابن عساکر په روايت کښې په دې جملې پسې راغلي دي چې ام سلمة[1] وويل: ما هم ورسره ملګرې کړه، پيغمبر اکرم(ص) وفرمايل: ته خپل مقام لرې او د خېر په لاره يې[2]".

۱. ام سلمة هند د ابو اميه قرشي مخزومي لور، وروسته تر دې چې خاوند ابو سلمة بن عبدالاسد يې په احد غزا کښې ژوبل او له هغه امله مړ شو، د خداې رسول (ص) ورسره وادۀ وکړ، ام سلمة په په ۲۰هجري کال کښې د امام حسين له شهادته وروسته وفات شوه، د هغې د ژوند حالات په اسد الغابة او تقريب التهذيب کښې راغلي دي.

۲. صحيح ترمذي، ۱۲ټوک ۸۵مخ، تفسير طبري، ۲۲ټوک ۷مخ، تفسير ابن کثير، ۳ټوک ۴۸۵مخ، مشکل الاثار، لومړی ټوک ۳۳۵مخ، جامع الاصول، ۱۰ټوک ۱۰۱مخ، ابن عساکر پينځم ټوک لومړی برخه ۱۲مخ.

## د واثلۀ بن اسقع[1] او ام سلمۀ حدیث:

حاکم په مستدرک او هیثمي په مجمع الزوائد کښې له واثلة روایت کوي چې ویې ویل: علی او فاطمة یې مخامخ او حسن او حسین په غیږ یا کوت کښې کښېنول، حاکم وایي: دا حدیث د شیخینو(بخاري او مسلم) په شرط سره چې د حدیث د سموالي په باب دے موافق او سم یعنې صحیح دے.

دا حدیث طبري، ابن کثیر او سیوطي پخپلو تفسیرونو کښې، بیهقي په سنن کبری او احمد بن حنبل په خپل مسند کښې له ام سلمة روایت کړے دے.[2]

د ابو سعید خدري په روایت د غوړیدا ځاې

---

۱. واثلة بن اسقع بن کعب لیثي، د تبوک له غزا وړاندې مسلمان شو، ویل شوي دي چې درې کاله د پیغمبر اکرم(ص) خادم ؤ، له ۸۰هجري کاله وروسته په دمشق یا بیت المقدس کښې وفات شو، د ژوند حال یې د اسد الغابة پینځم ټوک په ۷۷مخ راغلے دے.

۲. مستدرک صحیحین، دویم ټوک ۴۱۲مخ، دریم ټوک ۱۴۷مخ، مجمع الزوائد، پینځم ټوک ۱۲۷مخ، مشکل الاثار طحاوي، لومړی ټوک ۳۳۵مخ، ابن عساکر پینځم ټوک لومړی برخه ۱۲مخ ب. تفسیر طبري، ۲۲ټوک ۲مخ، تفسیر ابن کثیر ۳ټوک ۴۸۳مخ، تفسیر سیوطي، الدرالمنثور ۵ټوک ۱۹۸مخ، سنن بیهقي دویم ټوک ۱۵۲مخ، مسند احمد څلورم ټوک ۱۷۰مخ.

سيوطی د دغه آيت په تفسير کښې له ابوسعيد خدري روايت کوي چې وايې ويل:
هغه ورځ د پيغمبر اکرم(ص) د شتون نوبت له ام سلمة سره ؤ چې جبرئيل په دې آيت سره نازل شو "إنّما يُريْدُ الله...." وايي: د خداې رسول (ص) حسن، حسين، فاطمه او على(عليهم السلام) واوبلل او ځان ته يې نيږدې کړل او هغه څادر يې پرې وغوړاوهٔ په دې ډول چې ام سلمة ترې بهر وه. بيا يې عرض وکړ: خداونده! دا زما اهل بيت دي، پروردګاره! نجاست او پليتی له دغو اهل بيتو ليرې وساتهٔ او هغوي پاک و پاکيزه وګرځوه". ام سلمة وويل: اې د خداې رسوله(ص)! زهٔ هم له هغوي سره يم؟ ويې فرمايل: ته خپل مقام لرې، ته په خېر يې."[1]

۱. د درالمنثور تفسير، ۱۵ټوک ۱۹۸مخ، له نورو سرچينو هم دا حديث روايت شوے دے چې ابو سعيد خدري هغه پخپله له ام المؤمنين ام سلمة روايت کړے دے.
ابو سعيد سعد بن مالک انصادي خدري، د خندق په غزا او له هغې وروسته يې ګډون درلودهٔ، په شپيتم يا اويايم هجري کال کښې وفات شو، ژوندليک يې په اسد الغابة کښې په دويم ټوک ۲۸۹مخ ليکل شوے دے.

## د ام سلمۀ په حدیث د غونډېدا ځاې

ابن کثیر او سیوطي په تفسیر، بیهقي په سنن کبری، خطیب په تاریخ بغدادي او طحاوي په مشکل الاثار کښې له ام سلمة روایت کوي، چې ویې ویل:
د "إنّما یُریْدُ ا...." آیت کریمه زما په کور کښې او په داسې حال کښې چې فاطمه، علی، حسن او حسین هم وو، نازل شو، د خداې رسول(ص) هغوي په هغې عبا چې ورسره وه وپوښل بیا یې وفرمایل: دغه زما اهل بیت دي نو رجس او پلیتي ترې لیرې کړه او هغوي پاک او پاکیزه وګرځوه.[1]
د حاک په روایت کښې په مستدرک صحیحین کښې هم راغلي دي چې ویې ویل: زما په کور کښې نازل شو.
په صحیح ترمذي کښې په فضائل فاطمه[2] څپرکي کښې او په ریاض النضرة او تهذیب التهذیب کښې راغلي چې د خداې رسول (ص) وفرمایل: اې خدایه! دوي زما اهل بیت

۱. سنن بیهقي، دویم ټوک ۱۵۰مخ، تفسیر ابن کثیر، دریم ټوک ۴۸۳مخ، تفسیر سیوطي، الدرالمنثور ۵ټوک ۱۹۸مخ، تاریخ بغدادي، ۹ټوک ۱۲۲مخ، مشکل الاثار، لومړی ټوک ۳۲۴مخ، جامع الاصول، لسم ټوک ۱۰۰مخ، تفسیر ثعلبي دریم ټوک ۲۲۸مخ، تسییر الوصول دریم ټوک ۲۹۸مخ، ابن عساکر پینځم ټوک لومړی برخه ۱۳مخ آ، ب او ۱۲آ.
۲. ترمذي وایي په دې باب له عمر بن ابي سلمة، انس بن مالک، ابوالحمرائ او معقل بن یسار او عایشه روایت شوے دے.

او خاص کسان دي، رجس او پليتي ورځنې ليرې کړه او پاک او پاکيزه يې وګرځوه.[۱]

په مسند احمد کښې راغلي دي: ام سلمة وايي: ما خپل سر کور ته دننه کړو ومې ويل: زه هم ستاسو سره يم اې د خداي رسوله!؟ ويې فرمايل: ته د خېر په لاره يې، ته د خېر په لاره يې."

په بل روايت کښې وايي: ما عبا ليرې کړه چې زۀ هم ورسره شم، پيغمبر اکرم(ص) هغه زما له لاسه کش کړه او ويې فرمايل: ته د خېر په لاره يې.[۲]

په مستدرک کښې د حاک په روايت کښې راغلي دي: ام سلمة وويل: اې د خداې رسوله! زۀ په اهل بيتو کښې نه يم؟ ويې فرمايل: ته د خېر په لاره يې، او دا زما اهل بيت دي، خداونده! زما اهل بيت لاغوره دي.[۳]

هغه کسان چې د آيت د نازليدا په وخت په کور کښې وو

۱. صحيح ترمذي، باب فضايل فاطمه زهراء(س) ۱۳ ټوک ۲۴۸ او ۲۴۹مخ، تهذيب التهذيب دويم ټوک ۲۹۷مخ، د حسن په شرح حال کښې، رياض النضرة دويم ټوک ۲۴۸مخ، ابن عساکر، ۵ټوک لومړی برخه ۱۴مخ ب.

۲. مسند احمد، شپږم ټوک، ۲۹۲ او ۳۲۳مخونه.

۳. مستدرک حاکم، دويم ټوک ۲۱۲مخ، د احزاب سورې د آيت تفسير.

د سیوطي په تفسیر او مشکل الاثار کښې روایت کوي:
ام سلمة وایي: دا آیت "إنّما یُرِیْدُ ا...." زما په کوټ کښې نازل شو او په هغه کور کښې اووه تنه وو: جبرئیل، میکائیل، علی، فاطمه، حسن او حسین او زهٔ د کور په ورهٔ کښې وم، ومې ویل: اې د خداې رسوله! آیا زهٔ اهل بیت نه یم؟ ویې فرمایل: ته د خیر په لاره یې، ته د خیر په لاره یې، ته د پیغمبر یوه ماندینه یې.[1]
د ابن عساکر په روایت کښې، په هغه پسې راغلي دي: "ویې نه ویل چې ته له اهل بیتو نه یې".

## د آیت د نازلیدا په وخت د اهل بیتو حال

طبري په تفسیر کښې له ابو سعید خدري څخه له ام سلمة روایت کوي چې ویې ویل: د "إنّما یُرِیْدُ ا...." آیت د هغې په کور کښې نازل شو، وایي: زهٔ د کور په دروازې ناسته وم.[2]

---

۱.تفسیر درالمنثور سیوطي، پینځم ټوک ۱۹۸مخ د آیت تفسیر، مشکل الاثار، لومړی ټوک ۲۳۳مخ، تیسیر الوصول، دریم ټوک ۲۹۷مخ، جامع الاصول، لسم ټوک ۱۰۰مخ، ابن عساکر، پینځم ټوک لومړی برخه ۱۵مخ ب.
۲. تفسیر جامع البیان طبري، ۲۲ټوک ۷مخ.

د طبري په تفسیر کښې له ام سلمة روایت کوي چې وېې ویل:

په یوه ټغر د پیغمبر اکرم(ص) ګېر چاپېر راټول شول، پیغمبر اکرم(ص) هغوي په هغې عبا سره چې لرله یې، پټ کړل او وېې ویل: دا زما اهل بیت دي نو رجس او پلیتي له دوي لیرې کړه او پاک او پاکیزه یې وګرځوه. او دا آیت "إنّما یُرِیْدُ ا...." هغه وخت نازل شو چې پر هغه ټغر راټول شوي وو، وایي: ومې ویل: اې رسول الله! زۀ هم؟ په خداې قسم وېې نه وي: هو، او وېې ویل: ته د خېر په لاره یې.[۱]

۱. تفسیر جامع البیان طبري ۲۲ټوک ۷مخ.

**د تطهیر آیت د لفظونو تشریح (اراده، رجس(پلیتي)، کساء (عبا)،)**

**الف**: اراده: مشهور لغت پیژاند، راغب اصفهانی په خپل کتاب "مفردات قران" کښې د "رود" مادې په شرح کښې وایي: هر کله وویل شي أرَادَ الله یعني خدای اراده کړې ده، معنا یې دا ده چې د خدای حکم او اراده داسې ده، یا داسې نه ده، ستاسو لپاره یې د زیار او زحمت اراده کړې یا د رحمت اراده یې کړې ده.

**ب**: رجس: همدغه کتاب د "رجس" په ماده کښې وایي: رجس پلیت څیز دے، بیا وایي: رجس څلور ډوله دے، طبعي، عقلی، شرعی او هغه رجس چې دا ټول دي لکه مړے (میته)، جواري او شرک.

د ثعلبي په تفسیر کښې وایي: رجس هغه نوم دے چې ګناه، عذاب، نجاساتو او نیمګړتیاؤ ته ویل کیږي، او خدای دغه له اهل بیتو لیرې ساتلي دي.[۱]

قران کریم فرمایي:

۱. إنّما الخَمرَ والمَیسرَ والانْصابَ والازلامَ رِجسٌ مِن عَمَلِ الشیطان،

---

۱. تفسیر ثعلبي، دریم ټوک ۲۲۸مخ.

په تحقيق سره شراب، جواري، بتان او ازلام (بخت آزموينې جواري، لاټري) رجس، پليتي او د شيطان عمل دے. (مائده/۹۰)

۲. فَاجْتَنِبوا الرِجسَ مِنَ الاوثانْ، (حج/۳۰)

د بتانو له رجس او پليتی ځانونه ليرې وساتئ.

۳. إلا أنْ تَكونَ مَيتَةً او دَماً مَسْفُوحاً اَوْ لَحْمَ خنْزِير فَإنّهُ رِجسٌ. (انعام/۱۴۵)

(حرام نه دي) خو هغه څه چې مردار وي يا هغه وينه چې بهيدلي يا د خنزير غوښه، دا ټول رجس او پليت دي.

۴. كذلکَ يَجعَلَ اللّهُ الرِجسَ على الذّينَ لا يؤمِنون.

همدغه ډول خداې رجس او پليتي پر هغو کسانو چې ايمان نه راوړي ګرځوې. (انعام/۱۲۵)

۵. فَأعرض عَنْهم إنّهم رِجسُ.

نو له هغوي (منافقانو) مخ واړوئ چې هغه رجس او پليت دي. (توبه/۹۵)

۶. قالَ قَد وَقَعَ عَليكم مِن رَبّكمْ رِجْسٌ وَ غَضَبٌ.

(نوح) وويل: رجس او پليتي او د خداې غضب پر تاسو راغلے. (اعراف/۷۱)

په "إنّما يُريْدُ ا...." آيت کښې د تطهير مقام او شان د مريم په باره کښې د ال عمران سورې په **۴۲**آيت کښې د تطهير مقام او شان په څېر دے چې فرمايي:

وَ اذ قالتِ الملائِکةُ يا مَرْيَمُ إن اللّهَ اصْطَفَاکِ وَ طَهّرکِ واصْطفاکِ علی نسَاءِ العالمين.

او کله چې فرښتو وويل: اې مريم! خداې ته غوره کړې او پاکيزه يې کړې او د عالمينو په ښځو يې غوره کړې يې.

ج: کساء: د عبا په څير يوه جامه ده چې د جامو د پاسه اغوستلے شي

## په روايتونو کې د تطهير آيت تفسير

د سيوطي په تفسير کښې له ابن عباس څخه روايت کوي چې ويې ويل:

پيغمبر اکرم(ص) وفرمايل: خداې خلک دوه برخې کړي او زۀ يې په تر ټولو ښو کښې ګرځولے يم، تر دې چې ويې فرمايل: بيا يې په کورنيو کښې قبيلې وګرځولې او ماته يې په تر ټولو ښو کورنيو کښې ځاې راکړ او دا هماغه د متعال خداې فرمان دے چې "إِنّما يُرِيْدُ ا...." پس زۀ او زما اهل بيت له ټولو ګناهونو پاک او پاکيزه يوو.[١]

په همدغه تفسير کښې له "ضحاک بن مزاحم" څخه روايت کوي چې ويې ويل:

د خداې رسول (ص) فرمايل: مونږ هغه اهل بيت يوو چې خداې، پاک او پاکيزه ګړي، هغه کور چې د نبوت ونه ده،

١. تفسير درالمنثور، پينځم ټوک ١٩٩مخ، عبدالله بن عباس، د پيغمبر اکرم(ص) د ترۀ زوے، له هجرته درې کاله وړاندې وزيږيدۀ او په ٨٢ هجري کال کښې په طائف کښې وفات شو، د هغه د ژوند حالات په اسد الغابة کښې راغلي دي.

د رسالت مقام او د فرښتو د تګ راتګ ځاې، د رحمت کور دے او د علم معدن[۱].

په تفسير طبري او ذخائر العقبی محب طبري کښې له ابي سعيد خدري روايت شوے چې وېې ويل: پيغمبر اکرم(ص) وفرمايل: دا آيت "إنّما يُرِيْدُ ا...." د پينځو تنو په باره کښې نازل شوے، زما، علی، حسن، حسين او فاطمه په باره کښې.[۲]

په مشکل الاثار کښې له ام سلمة څخه روايت کوي چې وېې ويل: دغه آيت "إنّما يُرِيْدُ ا...." د سول الله، علی، حسن او حسين په باب نازل شوے دے.[۳]

په صحيح مسلم کښې روايت کوي چې له زيد بن ارقم صحابي څخه وپوښتل شو، د پيغمبر اکرم(ص) اهل بيت څوک دي؟ د هغه مبارک مانديني؟ وېې ويل: نه! په خداې

---

۱. تفسير درالمنثور: ابو القاسم يا ابو محمد، ضحاک بن مزاحم هلالي، ابن حجر وايي: هغه رښتوني دے او کثيرالارسال دے (يعني ډېر بې سنده حديثونه وايي) د محدثانو په پينځمې رتبې کښې دے اوله سلم هجري کاله وروسته وفات شوے دے.

۲. تفسير طبري، ۲۲ټوک ۵مخ، ذخائر العقبی ۲۴مخ، تفسير سيوطي، الدرالمنثور پينځم ټوک ۱۹۸مخ، ابن عساکر ۵ټوک لومړی برخه ۱۲مخ آ، او اسباب النزول نيشاپوري.

۳. مشکل الاثار، لومړی ټوک ۳۳۲مخ.

قسم چې ښځه تر يوې مودې له خاوند سره ده، بيا طلاق ورکول کيږي او هغه د خپل پلار او خپلوانو لورته بيرته ستنيږي، د پيغمبر اکرم(ص) اهل بيت اصل، ريښه او لښې خپلوان دي،هغه کسان چې له پيغمبر اکرم(ص) وروسته پرې صدقه حرام شوې ده.[۱]

هيثمي په مجمع الزوائد کښې له ابو سعيد خدري څخه روايت کوي چې ويې ويل: "اهلبيت هغه څوک دي چې خداې رجس او پليتي له هغوي ليرې کړې او پاک او پاکيزه يې ګرځولي دي" هغه په ګولو هغه کسان شمار کړي او وي ويل: "پينځه تنه دي، د خداې رسول (ص)، على، فاطمه، حسن او حسين عليهم السلام.[۲]

طبري په خپل تفسير کښې له قتاده څخه روايت کوي چې ويې ويل:

---

۱. صحيح مسلم باب فضائل على ابن ابى طالب، ۷ټوک ۱۳۳مخ.
زيد بن ارقم انصاري خدرجي، پيغمبر اکرم(ص) په احد کښې هغه د جنګيدو لپاره کوچنے وشميرۀ خو د احد له غزا وروسته يې په نورو غزاګانو او په صفين کښې له امام علي(ع) سره ګډون وکړ او د امام حسين(ع) له شهادته وروسته په کوفې کښې وفات شو، اسد الغابة دويم ټوک ۱۹۹مخ.

۲. مجمع الزوائد ۹ټوک ۱۲۵مخ او ۱۲۷مخونه، باب فضائ اهلبيت، ابن عساکر ۵ټوک لومړی برخه ۱۲آ مخ.

اهل بيت په "إنّما يُريْدُ ا...." آيت کښې هغه اهلبيت دي چې خداې هغوي له هر ډول بدې پاک اوپاکيزه کړي او خپل رحمت ته يې بيل کړي دي.[۱]
او همدغه راز، طبري د "إنّما يُريْدُ ا...." آيت په تفسير کښې وايي: "پاک خداې فرمايي: اې د محمد(ص) اهلبيتو! خداې غواړي، هر ډول بدې او فحشا له تاسو ليرې کړي اوتاسو په ګناهګارانو کښې له موجودې ککړتيا، پاک او پاکيزه وګرځوي.[۲]

## د آيت په نازليدا پسې د پيغمبر اکرم(ص) چلند

په مجمع الزوائد کښې له "ابو برزه" څخه روايت راغلے چې ويې ويل: "ما تر اوولسو مياشتو[۳] پورې له رسول الله(ص) سره لمونځ وکړ، هغه چې هر کله له کوره بهر وتۀ د فاطمه(س) د کور په دروازې راتلۀ او فرمايل يې: سلام وي

۱. تفسير طبري، ۲۲ټوک ۵مخ، تفسير سيوطي، الدرالمنثور ۵ټوک ۱۹۹مخ، قتادة ځلورو کسانو ته وايي: سدوسي، رهاوي، قيسي او انصاري او د خلفاؤ په مکتب کښې ټول ثقه بلل کيږي، د هغوي د ژوند حالات په تهذيب التهذيب کښې د دويم ټوک په ۱۲۳مخ راغلے دے.
۲. تفسير طبري ۲۲ټوک ۵مخ.
۳. ښايي اولس مياشتې د نسخه اخستونکو غلطي وي، چې سم اووه مياشتې دي.

پر تاسو تل، "إنّما يُرِيدُ اللّٰه لِيُذهِبَ عَنكُمُ الرِجسَ أهْلَ البَيتِ وَ يُطَهِرَكُمْ تَطْهِيْراً".[۱]

د سيوطي په تفسير کښې له ابن عباس څخه روايت شوے چې ويې ويل: نهه مياشتې د خداې رسول (ص) سره وم چې هره ورځ او د لمانځه په وخت به د على ابن ابى طالب د کور دروازې ته تلۀ او فرمايل به يې:

"د خداې رحمت، برکتونه او سلام پر تاسو اهل بيتو وي، "إنّما يُرِيْدُ ا...." هره ورځ پينځه ځله".[۲]

په صحيح ترمذي، مسند احمد، مسند طيالسي، مستدر صحيحين، اسد الغابه او د طبري، ابن کثير اوسيوطي په تفسيرونو کښې له انس بن مالک څخه روايت نقل شوے چې ويې ويل:

"د خداې رسول (ص) تر شپږو مياشتو پورې هر وخت چې د سهار لمانځه لپاره بهر وتل د فاطمه زهراء(س) کور له دروازې تيريدۀ او فرمايل يې: لمونځ اې اهل بيتو "إنّما

۱. مجمع الزوائد، ۹ټوک ۱۲۹مخ، ابو برزه اسلمي، په اصحابو کښې شمېرل شوے دے، په ۲۰يا ۲۴هجري کال کښې په کوفې کښې وفات شوے دے، د هغه د حال تشريح په اسد الغابه پينځم ټوک ۱۳۲مخ راغلې ده.
۲. تفسير سيوطي، الدرالمنثور ۵ټوک ۱۹۹مخ.

یُرِیدُ اللّٰه لِیُذهِبَ عَنکُمُ الرِجسَ أهْلَ البَیتِ وَ یُطَهِرکُمْ تَطْهِیْراً". ۱

په استیعاب، اسد الغابه، مجمع الزوائد، مشکل الاثار او د طبري، ابن کثیر او سیوطي په تفسیرونو کښې له ابي الحمراء روایت راغلے چې وېې ویل:

"پوره اته میاشتې په مدینې کښې د رسول اللّٰه(ص) دا خاطره په یاد لرم چې هیڅکله به د سهار لمانځه لپاره بهر نه وتۀ مګر دا چې د امام علي(ع) د کور په دروازې په راتلۀ او خپل لاسونه به یې د دروازې په دواړو لورو کیښودل او فرمایل به یې "لمونځ، لمونځ "إنّما یُرِیدُ اللّٰه لِیُذهِبَ عَنکُمُ الرِجسَ أهْلَ البَیتِ وَ یُطَهِرکُمْ تَطْهِیْراً.

---

۱. (مستدرک صحیحن ۳ټوک ۱۵۸مخ، حاکم وایي: دا حدیث د مسلم او بخاري) له شرط سره برابر او صحیح دے خو هغه یې روایت کړے نه دے) اسد الغابة ۵ټوک ۵۲۱مخ، مسند احمد، ۳ټوک ۲۵۸مخ، تفسیر طبري ۲۲ټوک ۵مخ، تفسیر ابن کثیر ۳ټوک ۴۸۳مخ، تفسیر سیوطي، الدرالمنثور ۵ټوک ۱۹۹مخ، مسند طیالسي ۸ټوک ۲۷۴مخ صحیح ترمذي، ۱۲ټوک ۸۵مخ، کنزل العمال ۷ټوک ۱۰۳مخ لومړی چاپ، جامع الاصول ۱۰ټوک ۱۰۱مخ ۶۶۹۱حدیث، تیسیر الوصول، ۳ټوک ۲۹۷مخ.

انس بن مالک انصاري خدرجي، روایت شوے چې هغه لس کاله د پیغمبر اکرم(ص) په خدمت کښې ؤ له ۹۰هجري کله وروسته په بصرې کښې وفات شو، د هغه د ژوند حالات اسد الغابة لومړی ټوک په ۱۲۷مخ موجود دي.

په بل روایت کښې شپږ میاشتې، په بل کښې اووه میاشتې او په دریم روایت کښې اتۀ میاشې او په څلورم کښې نهه میاشتې راغلي دي.[۱]

په مجمع الزوائد او د طبري په تفسير کښې له ابو سعید خدري څخه د لفظونو په لږ اختلاف سره روایت کوي، چې وېې ویل:

د خداې رسول(ص) څلویښت ورځې د فاطمه د کور دروازې ته راتلۀ او فرمایل یې: "سلام پر تاسو اهل بیتو وي، اود خداې رحمتونو او برکتونه هم، خداې پر تاسو رحم وکړه، لمونځ! "إنّما یُریدُ الله لِیُذهِبَ عَنكُمُ الرِجسَ أهْلَ البَیتِ وَ یُطَهِركُمْ تَطْهِیْراً، زۀ د هر هغه چا چې له تاسو سره دښمني

---

۱. ابو الحمراء، مولی رسول الله(ص) (ویل شوي) نوم د هغه هلال بن حارث یا هلال بن ظفر دے، د هغه د ژوند حالات د اسد الغابة د پینځم ټوک په ۱۷۴مخ، تهذیب التهذیب ۱۲ټوک ۷۸مخ او استیعاب پینځم ټوک ۲۳۷مخ موجود دي، د هغه روایتونه د استیعاب ۲ټوک ۵۹۸مخ، د طبري، ابن کثیر او سیوطي په تفسیرونو او د دغه آیت تفسیر د مجمع الزوائد نهم ټوک ۱۲۱مخ او ۱۲۸مخونه او د مشکل الاثار لومړی ټوک ۳۳۷مخ راغلے دے.

کوي، دښمن یم او د هر هغه چا چې درسره دوستي کوي، دوست یم". [۱]

## د اهل بیتو د فضیلتونو په اثبات کښې د تطهیر آیت تائید کوونکي:

### الف: حسن بن علي(ع)

حاکم په مستدرک صحیحین کښې د حسن بن علي(ع) د فضائلو په باب کښې او هیثمي په مجمع الزوائد کښې د اهلبیتو د فضائلو په باب کښې روایت کوي، کله چې علي(ع) شهید شو، حسن بن علي(ع) خلکو ته خطبه وویله او ویې فرمایل: "اې خلکو! څوک چې ما پیژني نو پیژني مې او څوک چې مې نه پیژني نو زهٔ د علی زوے حسن یم، زهٔ د پیغمبر بچے او وصي زوے یم، زهٔ د زیري ورکوونکې او د ویروونکي بچے یم، زهٔ د خداې په اذن د خداې لورې ته د بلونکي زوے یم، زهٔ د ځلانده مشال بچے یم، زهٔ اهل بیت یم چې جبرائیل به پر مونږ نازلیدهٔ او زمونږ له خوا به آسمان ته تلهٔ، زهٔ له هغو اهل بیتو یم چې خداې رجس او

۱. مجمع الزوائد نهم ټوک ۱۲۹مخ، تفسیر سیوطي پینځم ټوک۱۹۹ مخ.

پليتي ورځني ليرې کړې اوپاک او پاکيزه يې ګرځولي دي" د خطبې تر پاي.....[۱]

په مجمع الزوائد او ابن کثير په تفسير کښې روايت کوي، (عبارت د مجمع د ے):

"کله چې علي(ع) شهيد کړاي شو، حسن بن علي(ع) دهغه ځاي ناستے شو، يو ځل يې له خلکو سره لمونځ ادا کاوۀ، چې يوۀ سړي پرې د خنجر حمله وکړه او ژوبل شو، بيا څو مياشتې ناروغه ؤ، کله چې ښه شو، پر منبر وخاتۀ او ويې فرمايل: اې د عراق اوسيدونکيو! زمونږ په باره کښې له خدايه وويرېږئ، مونږ ستاسو ميلمانۀ او لاربنوونکي يوو، مونږ هماغه اهلبيت يوو چې خداوند ذوالجلال د هغوي په هلکه فرمايي: "إنّما يُرِيدُ الله لِيُذهِبَ عَنكُمُ الرِجسَ أهْلَ البَيتِ وَ يُطَهِرکُمْ تَطْهِيْراً"، هغه وينا کوله او هيڅول په جومات کښې له ژړا پرته پاتې نه وو، طبراني هغه روايت کړے او رجال يې ټوله ثقه دي.[۲]

۱. مستدرک حاکم، د حسن بن علي(ع) د فضائلو باب، ۳ټوک ۱۷۲مخ.

۲. مجمع الزوائد، د اهلبيتو د فضائلو باب نهم ټوک ۱۷۲مخ، تفسير ابن کثير ۲ټوک ۴۸۲مخ.

## ب: ام سلمهٔ

په مشکل الاثار کښې طحاوي له عمره همدانيه څخه روايت کوي چې ويې ويل:
ام سلمة ته ورغلم، سلام مې وکړ، ويې ويل: څوک يې؟ ومې ويل: عمره همدانيه او دامې وويل، اې ام المؤمنين، ما د دغه سړي له حاله چې زمونږ په مينځ کښې ووژل شو، خبره کړه، هغه سړے چې ډېر ګرانښت يې درلودهٔ او ډېره کينه هم ورسره وه، مقصد يې علي ابن ابي طالب ؤ، ام سلمة وويل: ته يې مينه واله يې يا دښمنه؟ ومې ويل: نه يې مينه والا يم او نه يې دښمنه، (ام سلمة وويل): د خداې دا آيت نازله کړې: "إنّما يُريدُ الله لِيُذهِبَ عَنكُمُ الرِجسَ أهْلَ البَيتِ وَ يُطَهِرَكُمْ تَطْهِيْراً" او کور کښې له جبرئيله، رسول الله(ص)، علی، فاطمه زهراء(س)، حسن او حسين څخه پرته بل څوک نه وو، ما وويل: اې د خداې رسوله! زهٔ هم له اهل بيتو يم؟ ويې فرمايل: ستا لپاره د خداې په نږد د خېر او نيکي ده، ما دا خو ښوله چې زما په ځواب کښې ووايي: هو! او دا پر ما تر هغه څه ډېر ګران وو چې لمر پرې راخيژي او پريوځي.[۱]

۱. مشکل الاثار، لومړی ټوک **۳۳۲**مخ.

## ج: سعد بن ابي وقاص

په خصائص نسائي کښې له عامر بن سعد بن ابي وقاص څخه روايت کوي چې ويې ويل: معاويه سعد ته حکم ورکړ او ويې ويل: څه شے ابوتراب ته د تا له کنځولو خنډ شوے دے؟ سعد وويل: تر هغه وخته چې د هغه په باره کښې د پيغمبر اکرم(ص) درې خبرې يادوم هيڅکله به کنځل ورته ونه کړم، داسې خبرې که چيرې يوه هم زما په هکله وې د سرو ويښتو له اوښانو مې زياته خوښوله:

۱. اوريدلي مې دي کله چې د خداې رسول(ص) په يوې غزا کښې هغه پر خپل ځاې کښينولے ؤ، علي(ع) ورته وويل: اې د خداې رسوله! آيا ما له ښځو او ماشومانو سره يو ځاې پريږدے؟ د خداې رسول (ص) ورته وفرمايل: آيا خوشحال نه يې چې زما پر ځاې د موسی پر ځاې د هارون په څير واوسے، پرته له دې چې له وروسته بل پيغمبر نيشته؟.

۲. اوريدلي مې دي چې خيبر په ورځ يې وفرمايل: سبا د جنګ بيرغ هغه چا ته ورکوم چې له خداې او خداې له رسول سره مينه لري او خداې او د خداې رسول (ص) له هغه سره مينه لري، مونږ ټول

ورته ځير شو چې ويې فرمايل: على راته راولئ، علي په داسې حال کښې چې سترګې يې خوږېدے راوستل شو، د خولې مبارکې اوبه يې پر سترګو ولګولې او بيرغ يې ورکړ.

۳. او کله چې د "إنّما يُرِيدُ الله...." آيت نال شو د خداې رسول(ص)، على، فاطمه، حسن او حسين وغوښتل او ويې ويل: خداونده! دا زما اهلبيت دي.[۱]

ابن جرير او ابن کثير د آيت په تفسير، حاکم په مستدرک او طحاوي په مشکل الاثار کښې روايت کوي چې سعد وويل:

"پيغمبر اکرم(ص) په هغه وخت کښې چې پرې وحي نازله شوه، علي يې له خپلو دوو زامنو سره او فاطمه راوستل او رسره تر خپل ټوکر لاندې شو او ويې فرمايل: دا زما اهلبيت دي".[۲]

---

۱. حصائص نسائي ۴مخ.

۲. تفسير طبري، ۲۲ټوک ۷مخ، تفسير ابن کثير ۳ټوک ۴۸۵مخ، مستدرک حاکم ۳ټوک ۱۴۷مخ، مشکل الاثار لومړے ټوک ۳۳۶مخ.

## د: ابن عباس

په طبري تاريخ او ابن اثير تاريخ کښې روايت شوے، (دا عبارت د طبري دے) کله چې عمر، ابن عباس ته په خپلو خبرو کښې ووېل: وائ، اې بني هاشمو! په خداې قسم ستاسو زړونه تل په حسد او کينې دوکه خوري او له دې پرته بل څه نه مني.

ابن عباس ورته ووېل: "يا اميرالمؤمنين ورو وايه، د هغو کسانو زړونو ته، چې خداې ترې رجس او پليتي ليرې کړې او پاک او پاکيزه يې ګرځولي دي، په حسد کينې او دوکې نسبت مه ورکوه، چې يقيناً د خداې د رسول (ص) زړه، د بني هاشمو زړه دے".[1]

۲. د امام حنبلي په مسند احمد، خصائص نسائي، د محب طبري په رياض النضرة او د هيثمي په مجمع الزوائد کښې له عمرو بن ميمون روايت راغلے چې وېې ويل: (دا عبارت د مسند دے)

۱. تفسير طبري، ۲۲ټوک ۷مخ، تفسير ابن کثير ، دريم ټوک ۴۸۵مخ، مستدرک حاکم، ۳ټوک ۱۴۷مخ، مشکل الاثار لومړی ټوک ۳۳۲مخ.

زه د ابن عباس تر څنګه ناست وم چې نهه ډلګۍ ورته راغلې او ويې ويل: اې د عباس زويه! يا به زمونږ سره پاڅې (او بحث به کوې) او يا به مونږ له دغو سره يوازې پرېږدوې، ويې ويل: زۀ له تاسو سره بحث ته پاڅم، هغه په دغه وخت کښې روغ او بينا ؤ، بيا يې بحث او خبرې اترې وکړې او مونږ پوه نه شو څه يې وويل: راوي وايي: و مې ليدۀ ابن عباس راغے په داسې حال کښې چې جامې يې ټک وهلې او ويل يې: اُفّ و تُفّ، پر تاسو افسوس او پر تاسو تف، د داسې سړي په هکله سپين سترګي کوئ چې لس ځانګړي او خصوصي فضيلتونه لري تر دې حده چې ويې ويل: د خداې رسول(ص) خپله عبا راواخستله او پر على، فاطمه، حسن او حسين يې وغوړوله او ويې فرمايل: "إنّما يُرِيدُ الله لِيُذهِبَ عَنكُمُ الرِجسَ أهْلَ البَيتِ وَ يُطَهِرکُمْ تَطْهِيْراً".[۱]

۱. ټول حديث په مسند احمد کښې د لومړي ټوک په ۳۳۱مخ لومړي چاپ او پينځم ټوک ۳۰۶۲دوهم چاپ راغلے او ابن عباس پکښې د علي ابن ابي طالب لس فضيلتونه او ځانګړې ذکر کړي دي، دا حديث نسائي په يولسم مخ، خصائص او محب طبري، دويم ټوک ۲۲۹مخ، رياض النضرة او هيثمي د نهم ټوک په ۱۱۹مخ، مجمع الزوائد نقل کړے دے.

## هــ: واثلة بن اسقع

طبري د آیت په تفسیر، احمد بن حنبل په مسند، حاکم په مستدرک کښې وايي: دا حدیث د شیخینو، بخاري او مسلم له شرط سره صحیح دے، بیهقي په سنن، طحاوي په مشکل الاثار او هیثمي په مجمع الزوائد کښې له ابو عمار څخه روایت کوي، چې وايي: (عبارت د طبري دے) زه له واثلة بن اسقع سره ناست وم چې یو شمېر کسانو علي(ع) کړ او ورته یې کنځل وکړل، هغوي چې پاڅیدل، ویې ویل: کښېنه چې د هغه چا له حاله چې کنځلې یې ورته وکړې خبر کړم، زۀ د پیغمبر اکرم(ص) په څنګ کښې وم او ومې لیدل چې علي، فاطمه، حسن او حسین ورته راغلل او هغه حضرت خپله عبا پر هغوي واچوله او ویې فرمایل: اې پاکه خدایه! دغه زما اهلبیت دي، پروردګاره! رجس او پلیتي له دوي لیرې کړه او پاک او پاکیزه یې وګرځوه.[۱]

---

عمر ابن میمون اودي او ثقه او تابع دے، د صحیحینو خاوندانو د هغه حدیث روایت کړے دے، په ۷۴هجري کال کښې په کوفې کښې وفات شو، تقریب التهذیب، دویم ټوک ۸۰مخ.

۱. مشکل الاثار، لومړی ټوک ۳۴۲مخ، تفسیر طبري، ۲۲ټوک ۶مخ، مسند احمد، ۴ټوک ۱۰۷مخ، ابن حنبل عبارت پاک کړے او د "فشتموه" کلمه، (کنځل یې وکړل) او "هذالذي شتموا"

ابن عساکر دغه روایت په خپل تاریخ کښې په لازیات تشریح سره نقل کړے دے.

په اسد الغابه کښې له شداد بن عبدالله څخه روایت کوي چې ویې ویل: وامې وریدل کله یې چې د حسین سر راوړۀ او د شام یوۀ سړي هغه او د هغه پلار ته بد رد وویل: واثله پورته شو او ویې ویل: په خداې قسم، زۀ تل علی، حسن، حسین او فاطمه سره مینه کوم، له هغه وخته چې وامې وریدل، پیغمبر اکرم(ص) دهغوي په باره کښې وفرمایل: "إنّما یُرِیدُ الله لِیُذهِبَ عَنکُمُ الرِجسَ أهْلَ البَیتِ وَ یُطَهِرکُمْ تَطْهِیْراً".[۱]

(دغه کس چې کنځلې یې ورته وکړې) یې حذف کړي دي، مجمع الزوائد، ۹ټوک۱۲۷مخ، مستدرک حاکم، دویم ټوک ۴۱۲مخ، دریم ټوک ۱۴۷مخ، سنن بیهقي دویم ټوک ۱۵۲مخ، تفسیر ابن کثیر، ۳ټوک ۴۸۴مخ، ابن عساکر، ۵ټوک لومړۍ برخه، ۱۲مخ ابوعمار، شداد بن عبدالله فرشي دمشقي، ثقه او د محدثانو څلورمه رتبه لري، د هغه حدیث د صحیحینو خاوندانو روایت کړے دے، د هغه د ژوند لیک په تقریب التهذیب کښې د لومړي ټوک په ۳۴۷مخ راغلے دے.

۱. اسدالغابه، دویم ټوک ۲۰مخ، د امام حسین(ع) د ژوند حال.

او همدغه راز له ام سلمة څخه په مسند احمد، تفسیر طبري او مشکل الاثار کښې له شهر بن حوشب څخه روایت کوي چې ویې ویل: (عبارت د مسند دے)

کله چې د حسین بن علی(ع) د شهادت خبر یې راوړ، وامې وریدل چې د پیغمبر اکرم(ص) ماندینې ام سلمة په عراقیانو لعنت وکړ او ویې ویل: هغه یې ووژۀ، خدای هغو ووژه، دوکه یې ورسره وکړه، خدای پرې لعنت وکړه، ما لیدلي د خدای رسول (ص) تر دې حده چې ویې ویل: خیبري عبا یې کش کړه او پر هغوي (اهلبیتو) یې وغوړوله او ویې فرمایل:

خداونده! زما اهلبیت، رجس او پلیتي له هغوي لیرې کړه او پاک او پاکیزه یې وګرځوه.[1]

---

۱. مونږ حدیث کوټلے ذکر کړ، ټول حدیث د ام سلمة، د مسند احمد د شپږم ټوک په ۲۹۸مخ موجود دے ، تفسیر طبري، ۲۲ټوک ۶مخ، مشکل الاثار، لومړی ټوک ۳۳۵مخ، ابن عساکر ۵ټوک لومړی برخه ۱۴مخ، شهر بن حوشب اشعري شامي، صدوق دے د دریمې درجې، او حدیث یې د صحیحینو څښتنانو روایت کړے دے، په ۱۱۲هجري کال کښې وفات شو، تفریب التهذیب، لومړی ټوک ۳۵۵مخ.

## و: علی بن الحسین، امام سجاد(ع)

طبري، ابن کثیر او سیوطي د آیت په تفسیر کښې روایت کړے دے، علی بن الحسین د شام یوه سړي ته وفرمایل: آیا په احزاب سورې کښې دې نه دي لوستي: "إنّما یُرِیدُ اللّٰه لِیُذهِبَ عَنکُمُ الرِجسَ أهْلَ البَیتِ وَ یُطَهِرکُمْ تَطْهِیْراً"، هغه وویل: تاسو هغه یئ؟

ویې فرمایل: هو.[۱]

دا ټول خبر لکه څنګه چې په مقتل خوارزمي کښې راغلے دے، په دې ډول دے:

"کله چې د خداې د ګران پیغمبر دلمسي،حسین(ع) له شهادته وروسته امام سجاد(ع) یې د اهل بیتو له نورو بندیانو سره شام ته بوتلۀ او د دمشق په جامع دروازې تر وړاندې یې د بندیانو د ښودنو په ځاې کښې وساتۀ یو بوډا ورنیژدې شو او ویې ویل: مننه د خداې چې تاسو یې ووژلې او هلاک یې کړئ او ستاسو غلامان یې حتی له تاسو وبخښل او امیر المؤمنین (یزید) یې په تاسو برلاسے کړ.

۱. تفسیر طبري، ۲۲ټوک ۷مخ، تفسیر ابن کثیر ۳ټوک ۴۸۲مخ، تفسیر درالمنثور، ۵ټوک ۱۹۹مخ.

علی بن الحسین ورته وویل: اې شیخه! آیا قران دې لوستلے دے؟ ویې ویل: هو، ویې فرمایل: آیا دا آیت دې لوستلے دے: "قُلْ لا أسْئَلُکُم علیه أجْراً إلا المُؤدةَ فی القُربی" ووایه، زۀ له تاسو له خپلووانو له دوستئ پرته هیڅ اجر نه غواړم (شوری/۲۳) بوډا وویل: دا مې لوستلې دے.

ویې فرمایل: آیا د متعال خداې دا وینا دې هم لوستلې ده: وَ آت ذا القُربی حَقّهُ، د خپلوانو حق ادا کړه، او دا آیت هم: وَ اعْلَمُوا أنّمَا غَنِمْتُمْ مِنْ شَیءٍ فَإنّ للهِ خُمسَهُ و للرّسُولِ وَ لِذِی القُبری، پوه شئ هر ډول غنیمت چې لاسته راوړئ د هغه خمس د خداې، د پیغمبر او ذی القربی(خپلوانو) لپاره دے، (إسْراء/۲۶ او انفال/۴۱)

بوډا وویل: هو!

نو بیا یې وفرمایل: په خداې قسم! په دغو آیتونو کښې خپلوان مونږ یوو آیا د خداې دا کلام دې لوستلے چې فرمایي: "إنّما یُرِیدُ الله لِیُذهِبَ عَنکُمُ الرِجسَ أهْلَ البَیتِ وَ یُطَهِرکُمْ تَطْهِیْراً" نو مونږ هماغه اهلبیت یوو چې خداې د تطهیر آیت سره مونږ ته دغه ځانګړنه وبخښله.

بوډا وويل: تا ته د خداې قسم وي، آيا تاسو هماغه يئ؟
ويې فرمايل: زمونږ د نيکه پيغمبر اکرم(ص) په حق مونږ بې له شکه هماغه پخپله يوو.

بوډا پر هغه څه چې ويلي يې وو پښيمانه، خيجل او چپ شو، بيا يې سر آسمان ته پورته کړ او ويې ويل:
"خدايه! زهٔ له دوئي سره له دښمنۍ توبه کوم او تا ته ستنيږم، زهٔ د محمد او آل محمد(ص) له دښمنانو، که انسانان وي که پيريان، بيزاري کوم او ستا خوا ته ستنيږم". [۱]

مونږ په همدغو حديثونو چې د کساء حديث په هکله مو نقل کړي بسنه کوو[۲] ځکه چې د هغوي لپاره چې غواړي له قران کريم سره تمسک ومومي او تفسير يې له پيغمبر اکرم(ص) څخه واخلي، هم دومره کافي دي، إنّ فی ذَلكَ لذکری لَمَن کانَ لهُ قلْبٌ اَوْ اُلقِی السمعُ و هو شَهِيْدٌ، په رښتيا چې په دې کښې يادونه ده دهغه چا لپاره چې د زړه عقل او بصيرت لري يا اوريدونکے غوږونه لري او خبر وي. (ق/۳۷)

۱. مقتل خوارزمي دويم ټوک ۲۱ مخ، نجف اشرف چاپ.
۲. په دې باب حديثونه ډېر زيات دي، خو مونږ يې له راوړلو ډډه وکړه.

# د اهلبیتو د مکتب په کتابونو کښې د تطهیر آیت

## د آیت د نازلیدا شان او د کساء حدیث

### ۱: د ام المؤمنین ام سلمهٔ روایت

**الف: د شهر بن حوشب له لارې**

شهر بن حوشب وايي: د سلام وړاندې کولو لپاره د پیغمبر اکرم(ص) د ماندینې ام سلمة خدمت ته لاړم او ومې ویل: اې ام المؤمنین! د دغه آیت مقصود څوک دي؟ "إنّما یُرِیدُ الله لِیُذهِبَ عَنکُمُ الرِجسَ أهْلَ البَیتِ وَ یُطَهِرکُمْ تَطْهِیْراً".

ویې فرمایل: زهٔ او د خداې رسول(ص) پر خپلې بسترې تر خیبرې عبا لاندې وو چې له حسن او حسین سره فاطمه زهراء(س) راغله، پیغمبر اکرم(ص) پوښتنه وکړه: د ترهٔ زوے دې چیرته دے؟ عرض یې وکړ: په کور کښې دے، ویې فرمایل: لاړه شه او هغه راوبوله، ام سلمة وايي: ما هغه راوبالهٔ، پیغمبر اکرم(ص) عبا له ما ټوله کړه او پخپلو لاسونو یې پر هغوي وغوړوله او ویې فرمایل: "خداوندا! دا زما اهل بیت دي، رجس او پلیتي ورځنې لیرې کړه او پاک او پاکیزه یې وګرځوه"، زهٔ چې د پیغمبر اکرم(ص)

شاته ناسته ووم، ومې ويل: اې د خداې رسوله! پلار او مور مې له ته ځار شه، زۀ هم؟ ويې فرمايل: ته د خېر په لاره يې، هغه وخت د پيغمبر(ص)، على، فاطمه، حسن او حسين عليهم السلام په باب د "إنّما يُرِيدُ الله..." آيت نازل شو.[۱]

دا روايت په بل سند له ام سلمة څخه داسې راغلی:

ام سلمة وويل: دا آيت: "إنّما يُرِيدُ الله..." زما په كور كښې نازل شو او هغه دا وو چې پيغمبر اكرم(ص) هغوي(اهلبيت) په خپل لمانځه ځاې كښې په يوې عبا (كساء) كښې پټ كړل، بيا يې لاسونه پورته كړل او عبا يې لوړوله او په هماغه حال كښې يې ويل:

"خدايه! دا زما اهلبيت دي نو رجس او پليدي ترې ليرې كړه هماغه ډول چې د اسماعيل له اولاده، اسحاق او يعقوب دې ليرې كړې او دوي له پليتې پاک وساته لكه چې د لوط آل، عمران آل او هارون اولاد دې پاک كړې"،

ما وويل: اې د خداې رسوله! زۀ له تاسو سره داخله شم؟ ويې فرمايل: ته د خېر په لاره يې ته د پيغمبر له مانديو يې".

---

۱. تفسير فرات كوفي، ۱۲۱مخ، تفسير مجمع البيان ۸ټوک ۳۵۲مخ، بحار الانوار ۳۵ټوک ۲۱۳مخ.

لور يې وويل: مور جانې هغوي معرفي کړه! ويې ويل: "فاطمه وه، او د فاطمې خاوند له حسنينو سره".[۱]

**ب: د ابي عبد الله جدلي له لارې**

وايي: عايشه ته ورغلم او ومې ويل: دا آيت "إنّما يُرِيدُ الله..." چېرته نازل شو؟ ويې ويل: د ام سلمة په کور کښې نازل شو، ام سلمة ويلي وو چې که چېرې له عايشه دې پوښتلې وې، دا به يې ويل چې دا آيت زما (ام سلمة) په کور کښې نازل شوے دے، هغې وويل: د پيغمبر اکرم(ص) په خدمت کښې وم چې ويې فرمايل: "کاشکې! څوک تللے وې او علی، فاطمه او د هغوي دوه زامن يې دلته رابللي وې" وايي: ومې ويل: له ما پرته بل څوک نشته نو څادر مې په سر کړ او ورغلم او ټول مې راوستل، نو علی، پيغمبر اکرم(ص) ته مخامخ کښيناستۀ، حسن او حسين ښي او کيڼ اړخ ته او فاطمه شا ته کښيناستله، بيا يې په خيبري څادر سره ټوله وپوښل او ويې ويل: مونږ ټول ستا خوا ته راڅو، د خداې رسول (ص) درې ځله اشاره وکړه، - ستا لورې ته، نه د اور لور ته - زۀ او عترت مې اهلبيت چې زما له وينې او غوښې دي"؟ ام سلمة وايي: ما وويل: اې د

۱. تفسير فرات کوفي، ۱۲۲مخ، بحار الانوار ۳۵ټوک ۲۱۵مخ.

خدایږ رسوله! ما هم له دوي سره داخله کړه، ویې فرمایل: ای ام سلمة! ته زما په ماندینو کښې غوره ښځه یې، بیا دا آیت نازل شو: "إنّما یُرِیدُ الله لِیُذهِبَ عَنکُمُ الرِجسَ أهْلَ البَیتِ وَ یُطَهِرکُمْ تَطْهِیْراً".۱

**ج: د ام سلمۀ د غلام عبدالله بن معین له لارې**

وایي: دا آیت "إنّما یُرِیدُ الله..." د ام سلمة په کور کښې نازل شو، ام سلمة وویل: پیغمبر اکرم(ص) ماته وفرمایل: څو په علی، فاطمه، حسن او حسین پسې لاړه شم او کله چې راغلل: علی یې ښي اړخ ته، حسن یې کیڼ پلو ته، حسین یې پر خیټې او فاطمه زهراء(س) یې د پښو له پلوه په غیږ کښې ونیوله او بیا یې وویل: خدایه! دا زما اهلبیت دي نو رجس او پلیتي له دوي لیرې کړه او پاک او پاکیزه یې وګرځوه" درې ځله یې داسې وفرمایل، ما وویل: اې د خدایږ رسوله! زۀ هم؟ ویې فرمایل: "ته د خېر په لاره یې انشاء الله".۲

---

۱. تفسیر فرات کوفي، ۱۲۴مخ، بحار الانوار ۳۵ټوک ۲۱۵مخ.
۲. امالي شیخ طوسي لومړی ټوک ۲۷۰ مخ، بحارالانوار ۳۵ټوک ۲۰۹مخ.

**د: د دعبل د ورور له لارې**

هغه له امام رضا(ع) له خپل پلرونو علی بن الحسین، له ام سلمة روایت کوي چې ویې ویل: دا آیت زما په کور کښې او زما په ځانګړې ورځ نازل شو، پیغمبر اکرم(ص) زما سره ؤ چې علی، فاطمه، حسن او حسین یې رواېلل، جبرئیل هم راغے، پیغمبر اکرم(ص) د فدک عبا پرې وغوړوله، بیا یې وفرمایل: "خدایه! دا زما اهلبیت دي، خدایه! رجس او پلیتي ترې لیرې کړه او پاک او پاکیزه یې وګرځوه، جبرئیل وویل: زۀ هم له تاسو یم اې محمده! پیغمبر اکرم(ص) وفرمایل: ته له مونږه یې اې جبرئیله!، ام سلمة وایي: ما وویل: اې د خداې رسوله! زه هم له اهلبیتو یم؟ او ورشم چې د هغوي پر څنګ کښې وم، ویې فرمایل: اې ام سلمة! پخپل ځاې کښې پاتې شه، ته د خېر په لاره یې، ته د خداې د پیغمبر له ماندینو یې.

جبرئیل وویل: ولوله اې محمده! "إنّما یُرِیدُ اللهُ لِیُذهِبَ عَنکُمُ الرِجسَ أهْلَ البَیتِ وَ یُطَهِرکُمْ تَطْهِیْراً"، د پیغمبر اکرم(ص)، علی، فاطمه، حسن او حسین په باب.[۱]

۱. امالي شیخ طوسي، **۲۳۵**مخ، بحار الانوار **۳۵**ټوک ۲۰۸مخ.

## ۲. د حسین بن علي(ع) روایت

زید بن علس له خپل پلاره، هغه له خپل جد، امام حسین(ع) څخه روایت کوي چې وېې فرمایل: دخداې رسول (ص) د ام سلمة په کور کښې ؤ چې د حریره خواړهٔ یې راوړل، هغه حضرت، علی، فاطمه، حسن او حسین(ع) راوغوښتل ټولو هغه وخوړل بیا یې خیبري عبا د هغوي پر سره خوره کړه او دا آیت یې تلاوت کړ: "إنّما یُرِیدُ الله لِیُذهِبَ عَنکُمُ الرِجسَ أهْلَ البَیتِ وَ یُطَهِرکُمْ تَطْهِیْراً"، ام سلمة وویل: اې د خداې رسوله! زهٔ هم له هغوي سره یم؟ وېې فرمایل: ته د خېر په لاره یې.[۱]

## ۳. د ابو سعید خدري روایت

### الف: پخپله له ابو سعیده

ابو سعید د خداې له رسوله روایت کوي چې د "إنّما یُرِیدُ الله ..." آیت د محمد(ص) او د هغه د اهلبیتو په باره کښې نال شوے دے، کله چې رسول الله(ص) علی، فاطمه، حسن

۱. کنز جامع الفوائد، ۲۰۳ او ۲۰۴مخ، بحار الانوار ۲۵ټو ۲۱۳مخ، د حریره خوړو موضوع یوازې په دې روایت کښې راغلې دے.

او حسين راټول کړل، بيا يې عبا(کساء) پرې وغوړوله او ويې ويل: خدايه! دا زما اهل بيت دي، نو رجس او پليتي ورځنې ليرې کړه او پاک او پاکيزه يې وګرځوه، په دغه وخت کښې د ام سلمة د کور په وره ولاړه وه، نو ويې ويل: اې د خداې رسوله! زۀ هم د له دوي يم؟ ويې فرمايل: ته د خېر په لاره يې.[1]

**ب: له عطيه**

عطيه وايي: له ابو سعيد خدري مې وپوښتل: د "إنّما يُرِيدُ اللّٰه..." آيت د کومو کسانو په باره کښې د ے؟
ويې ويل: "دا آيت د پيغمبر اکرم(ص)، علی، فاطمه، حسن او حسين په باب نازل شوے د ے".[2]

## ۴. له ابو جعفر امام باقر(ع) څخه

امام باقر(ع) وفرمايل: د "إنّما يُرِيدُ اللّٰه..." آيت د پيغمبر اکرم(ص) علی ابن ابی طالب، فاطمه، حسن او حسين عليهم السلام په هکله نازل شوے او دا نازليدا د پيغمبر اکرم(ص) د ماندينې ام سلمة په کور کښې وه، پيغمبر

---

۱. فضائل ابن شاذان، ۹۹مخ، بحارالانوار، ۳۵ټوک ۲۱۲، ۲۱۳مخونه.
۲. بحار الانوار ۳۵ټوک ۲۰۸مخ.

اکرم(ص)، علی، فاطمه، حسن او حسین(ع) راوبلل، بیا یې خیبري عبا پرې وغوړوله او پخپله هم داخل شو بیا یې وویل: خداوندا! دا زما اهلبیت دي، هغوي چې په باب یې ماته وعده واکړې، خدایه! پلیتي او رجس ترې لیرې کړه او پاک او پاکیزه یې وګرځوه، بیا دا آیت نازل شو، ام سلمة وویل: اې د خداې رسوله! زۀ هم له دوي سره یم؟ ویې فرمایل: "زیرے وي په تا اې ام سلمة چې ته د خبر په لاره یې".[۱]

۱. بحار الانوار ۲۰۲مخ.

هغه څه چې پیغمبر اکرم(ص) د آیت له نازلیدا وروسته تر سره کړل

### ۱. د ابو سعید خدري له قوله:

ابو سعید وایي: د خدای رسول الله(ص)، له فاطمه سره د علی له وادهٔ وروسته څلویښت ورځې سهار مهال د علی د کور په دروازې راتلهٔ او فرمایل به یې: "سلام علیکم، د خدای رحمت او برکتونه پر تاسو اهلبتیو ووریږه! "إنّما یُرِیدُ الله لِیُذهِبَ عَنکُمُ الرِجسَ أهْلَ البَیتِ وَ یُطَهِرکُمْ تَطْهِیْراً" زهٔ د هغه چا دښمن یم چې د تاسو دښمن وي او د هغه چا دوست یم چې له تاسو سره دوستي کوي".[۱]

### ۲. د ابو الحمراء له قوله

ابو الحمراء وایي: ما نهه یا لس میاشتې د پیغمبر اکرم(ص) خدمت وکړ، په نهه میاشتو کښې شک نلرم، چې پیغمبر اکرم(ص) به سباؤن مهال بهر راوتهٔ او د علی، فاطمه، حسن او حسین(ع) د کور په دروازې به ورتلهٔ او د ورهٔ دواړه اړخونه به یې نیول او فرمایل به یې: د خدای

---

۱. تفسیر فرات کوفي، ۱۲۲مخ، بحار الانوار **۳۵**ټوک ۲۰۸مخ.

سلام ، رحمت او برکتونه پر تاسو اوسه، خداې پر تاسو لورينه وکړه، لمونځ! وايي: هغوي په ځواب کښې وويل: پر تاوي سلام، رحمت او برکت اې د خداې پيغمبره! او پيغمبر اکرم(ص) به فرمايل: "إنّما يُرِيدُ اللهُ لِيُذهِبَ عَنكُمُ الرِجسَ أهْلَ البَيتِ وَ يُطَهِرکُمْ تَطْهِيْراً".

دا حديث په يوۀ بل عبارت هم له ابوالحمراء څخه روايت شوے دے.[1]

### ۳. د امير المؤمنين له قوله

حارث وايي: امام علي(ع) وفرمايل: د خداې رسول (ص) هره ورځ سهار وختي زمون وخوا ته راتلۀ او فرمايل به يې لمونځ! دخداې رحمت پر تاسو اوسه، لمونځ! "إنّما يُرِيدُ اللهُ لِيُذهِبَ عَنكُمُ الرِجسَ أهْلَ البَيتِ وَ يُطَهِرکُمْ تَطْهِيْراً".[2]

---

۱. امالي شيخ، لومړى ټوک ۲۵۷مخ، بحار الانوار ۳۵ټوک ۲۰۹مخ، کشق الحق علامه حلي، لومړى ټوک ۸۸مخ، العمدة ابن بطريق، ۱۲ ـ ۲۳مخ.
۲. مجالس مفيد ، ۱۸۸مخ، امالي شيخ، ۵۵مخ، بحارالانوار ۳۵ټوک ۳۰۸مخ.

## ۴. د امام باقر(ع) له قوله

امام باقر(ع) له خپل پلار "امام سجاد(ع)" څخه روایت کوي چې ویې فرمایل: وَأمُر أهْلَكَ بالصلاةِ واصطَبِرْ عَلَيهَا... (سورة طه آیت ۱۳۲) خپلې کورنۍ ته د لمونځ د ادا کولو حکم ورکړه او پر ترسرا کیدا یې ټینګ اوسه. دا آیت د علی، فاطمه، حسن او حسین(ع) په باب نازل شوے دے، د خداې رسول(ص) به هره ورځ سهار د فاطمه زهراء(س) د کور په دروازې راتلۀ او فرمایل به یې: "پر تاسو اهلبیتو سلام او د خداې رحمت او رکتونه پر تاسو وي، پاک خداې تاسو وبخښه، لمونځ! "إنّما يُرِيدُ الله لِيُذهِبَ عَنكُمُ الرِجسَ أهْلَ البَيتِ وَ يُطَهِرکُمْ تَطْهِيْراً".[۱]

راوي وايي: "امام باقر(ع) وفرمایل: متعال خداې خپل پیغمبر ته حکم ورکړ چې خپلې کورنۍ ته له نورو خلکو جلا، ځانګړتیا وبخښي څو خلک پوه شي چې دهغه اهلبيت د خداې په نږد خاص مقام لري چې نور خلک یې نلري، په همدې وجه یې یو ځل له ټولو خلکو سره ورته خطاب وکړ او یو ځل په خاص حکم سره".[۲]

په بل عبارت هم روایت شوے،

---

۱. کنزل الفوائد، ۱۲۱، ۱۲۲، ۱۷۸ مخونه، بحار الانوار ۲۵ټوک ۲۲۰مخ.

۲. بحارالانوار ۲۵ټوک ۲۱۲مخ، مجمع البیان ۴ټوک ۳۷مخ.

د فرات په تفسير کښې وايي: خداې خپل پيغمبر اکرم(ص) ته حکم ورکړے چې خپلې کورنۍ ته له نورو خلکو جلا ځانګړنه وبخښي څو خلک پوه شي، آل محمد د خداې په نزد خاص مقام لري چې نور خلک يې نه لري، ځکه يو ځل له ټولو خلکو سره يو ځاې حکم ورکړے او بيا يې په خاص حکم سره روته ځانګړنه بخښلې ده، کله چې متعال خداې دا آيت نازل کړ، پيغمبر اکرم(ص) به هر سهار د لمانځه په وخت راتلۀ او د علی، فاطمه، حسن او حسين(ع) د کور دروازې ته به رسيدۀ او فرمايل به يې: دخداې سلام او د هغه رحمت او برکتونه پر تاسو وي".

علی، فاطمه، حسن او حسين(ع) به ويل: پر تاوي سلام اې د خداې رسوله! او د خداې رحمت او برکتونه هم، بيا به پيغمبر اکرم(ص) د دروازې دوه بازوګان نيول او فرمايل به يې: خداې پر تاسو نعمتونه ولوريه، لمونځ! لمونځ! "إنّما يُرِيدُ الله لِيُذهِبَ عَنكُمُ الرِجسَ أهْلَ البَيتِ وَ يُطَهِرَكُمْ تَطْهِيْراً" پيغمبر اکرم(ص) به پرله پسې هره ورځ (چې په مدينه کښې ؤ) همداسې کول، څو له دنيا يې رحلت وکړ،

ابو الحمراء چې د پیغمبر اکرم(ص) خدمتګار ؤ، وایي: "ماولیدل چې همداسې یې کول".[۱]

### ۵. د امام صادق(ع) له قوله

امام صادق(ع) له خپل پلار او هغه له خپلو پلرونو روایت کوي چې د خدای رسول(ص) هره ورځ سهار(سباؤن مهال) د علی(ع) او فاطمه زهراء(س) د کور په دروازې ودریدل او فرمایل به یې:

اَلْحَمْدُ للهِ الْمُحْسِنِ الْمُجمِلِ الْمُنعِمِ الْمُفَضِلِ الّذی بِنعْمَة تَتمّ الصالَحات سَمَعُ سامع، بِحمْدَ الله وَ نَعْمَته وَ حُسْن بلائه عنْدَنا نعوذُ بالله منَ النّارِ نعوذ بالله منْ صباح النّار، نعوذُ باَلله منْ مُساء النّار، الصّلاة یا اهلبیت، "إنّما یُرِیدُ الله لِیُذهِبَ عَنَکُمُ الرِجسَ أهْلَ البَیتِ وَ یُطَهِرکُمْ تَطْهِیْراً"،

"ثنا او صفت (ستاینه او مننه) د نیک، ښکلې نعمت بخښونکي او لوریونکي، خدای لره دے، هغه خدای چې په نعمت سره یې ورتیاوې کمال ته رسیږي تړوک اوریدونکي او ګرد ګواهان باید زمونږ ستاینه او مننه د متعال خدای په باب وویني او واوري، هغه خدای چې خپل نعمت یې پر مونږ تمام او خپل عافیت یې پر مونږ

---

۱. تفسیر فرات کوفي، ۵۳۰او ۵۳۱مخونه، بحارالانوار ۳۵ټوک ۲۰۷مخ.

راولورايه او مونږ يې په درستو موجوداتو کښې غوره کړو، خداې ته پناه وړم د دوزخ له اوره، خداې ته پناه وړم د دوزخ له سهاره، خداې ته پناه وړم د دوزخ له شپې، لمونځ اې اهلبيتو! "إنّما يُرِيدُ اللهُ لِيُذهِبَ عَنكُمُ الرِجسَ أَهْلَ البَيتِ وَ يُطَهِرَكُمْ تَطْهِيْراً".[۱]

طبرسي وايي: دا روايت ابن عقده پخپلو سندونو سره د اهلبيتو او غير اهل بيتو له ډېرو لارو کله، ابي برزه او ابي رافع نقل کړے دے.[۲]

لکه څنګه چې په بل عبارت سره د امام صادق(ع) له قوله هم راغلے دے.[۳]

هغه څه چې تير شول په خبر د "وَأمُر أهْلَكَ بالصلاةِ واصطَبِرْ عَلَيهَا..." د آيت کريمه تفسير د رازي په تفسير او داسې نورو کښې هم راغلے دے.

۱. ابن اثير په نهاية اللغه، د "سمع" مادې په دويم ټوک کښې په ۱۸۱ او ۱۸۲ مخونه وايي: په حديث کښې راغلي، "سمع سامع بحمد الله و حسن بلائه علينا" يعنې بايد واوري او ريدنکي او بايد ګواو واوسي ليدونکي، زمونږ د متعال خداې پر ستاينې، پر هغه احسان چې پر مونږ يې کړے او پر هغه نعمت چې پر مونږ يې لوريلے....

۲. تفسير مجمع البيان، ۴ټوک ۳۷مخ.

۳. تفسير فرات، ۱۲۲مخ.

# د اهلبیتو په فضائلو کښې د تطهیر آیت تائیدوونکي

## ۱. امیر المؤمنین علی بن ابي طالب(ع)

له امام صادق(ع) له هغه پلار امام باقر(ع) څخه روایت راغلے چې ویې فرمایل: علی بن ابي طالب وفرمایل: خداوند جل وشانه، مونږ اهل بیتو ته بر لاسي بخښلې ده، او ولې ته داسې نه وي چې هماغه په ښکل کتاب کښې فرمایي: "إنّما یُرِیدُ الله لِیُذهِبَ عَنکُمُ الرِجسَ أهْلَ البَیت وَ یُطَهِرکُمْ تَطْهِیْراً" په رښتیا چې مونږ یې په ظاهر او باطن کښې له پلیتئ، او بدو کارونو پاک او پاکیزه کړې یوو، نو مونږ د حق په لاره یوو.[۱]

## ۲. امام حسن بن علی علیهما السلام

امام حسن(ع) دوه ځله دغه حدیث تصدیق کړے دے:
الف: په هغه ورځ چې د خپل پلار، امام علي(ع) له شهادته وروسته، په خلافت دهغه بیعت وشو، هغه په خپلې خطبې کښې وفرمایل:

---

۱. کنزالفوائد، ۲۳۲مخ، بحارالانوار ۲۵ټوک ۲۱۳او ۲۱۴مخونه.

اې خلکو! هر څوک چې ما پيژني، چې پيژني مې... تر پايې پورې، په وړاندنيو مخونو کښې دا خطبه ليکل شوې ده.

ب: له معاويه سره د سولې په وخت

امام حسن(ع) له معاويه وروسته وينا وکړه او ويې فرمايل: "وايم اې خلکو! واورئ، تاسو عوږونه او زړونه لرئ نو زما وينا واورئ، مونږ هغه اهل بيت يوو چې خداې په اسلام سره زمونږ درناوے کړے او مونږ يې انتخاب او غوره کړې يوو او رجس او پليتي يې له مونږه ليرې کړې او مونږ يې پاک او پاکيزه ګرځولي يوو، رجس، شک دے او مونږ په حق خداې او د هغه په دين کښې هيڅکله شک نه کوو، هماغه پر مونږ نعمت رالوريل، او رمونږ زوزاد يې تر ادم(ع) پورې له هر ډول نيمګړتيا، عقلي کمښت، ناخالصي او ګمراهۍ پاک کړے دے، تر دې ځايه چې ويې فرمايل: متعال خداې فرمايلي: "إنّما يُرِيدُ اللهُ لِيُذهِبَ عَنكُمُ الرِجسَ أهْلَ البَيتِ وَ يُطَهِرکُمْ تَطْهِيْراً" کله چې د تطهير آيت نازل شو د خداې رسول(ص)، زۀ، زما ورور، زما مور او پلار يې پخپل څنګ کښې ودرولو او مونږ ټول يې په هغې خيبرې عبا چې د ام سلمة وه. د ام سلمة په کور کښې د هغې د نوبت په ورځ. وپوښلو او ويې فرمايل: خدايه! دا زما اهلبيت دي، دا زما کورتۍ او زما عترت دي نو رجش او

پليتي له دوي ليرې کړه او پاک اوپاکيزه يې وګرځوه، ام سلمة وويل: اې د خداې رسوله! زه هم له دوي سره تر عبا لاندې راشم؟ دخداې رسول(ص) ورته وفرمايل: پر تا د خداې رحمت وي، ته د خېر په لاره اونيکه لاره يې، زۀ له تا ډېر خوشحال يم خو دا ځانګړنه زما او د دوي ده.

له هغه وروسته پيغمبر اکرم(ص) تر هغه وخته چې ژوندے ؤ او خداې د هغه مبارک روح خپل لور ته نه ؤ بللے، هره ورځ به سباؤن مهال مونږ وخوا ته راتلۀ او فرمايل به يې: خداې پر تاسو وبخښه، لمونځ! "إنّما يُرِيدُ الله لِيُذهِبَ عَنكُمُ الرِجسَ أهلَ البَيتِ وَ يُطَهِرکُمْ تَطْهِيْراً".[۱]

### ۳. ام سلمۀ

د فرات، خصال، امالي صدوق په تفسير او بحار الانوار کښې د افعي لور "عمره همدانيه" روايت کوي چې ام سلمة ترې وپوښتل (عبارت د فرات تفسير دے)

" ته عمره يې؟ ويې ويل: هو، بيا عمره ترې وپوښتل: اې ام المؤمنين! آيا ما د دغه سړي له حاله چې ستاسو دوستانو او دښمنانو په مينځ کښې يې ګزار وخوړ او ووژل شو، نه

۱. بحار الانوار، ۱۰ټوک ۱۴۱ او ۱۴۲مخونه امالي ابن شيخ.

خبروې؟ ام سلمة وويل: ته ورسره مينه کوې؟ ويې ويل: نه يې لرم او نه يې دښمن شمارم! مطلب يې علي(ع) ؤ، ام سلمة وويل: متعال خداې چې کله دا آيت نازل کړ: "إنّما يُرِيدُ الله لِيُذهِبَ عَنكُمُ الرِجسَ أهْلَ البَيتِ وَ يُطَهرَكُمْ تَطْهِيْراً" له جبرئيل، ميکائيل، محمد، علی، فاطمه، حسن، حسين(ع) او ما پرته بل هيڅوک په کور کښې نه وو، ما وويل: اې د خداې رسوله! زه هم له اهلبيتو يم؟ ويې فرمايل: ته زما له غوره ماندينو يې" اې عمره! که فرمايلي يې وې، چې هو، تر هر هغه څه چې لمر پرې ځليږي زما لپاره ګران وو.[1]

## ۴. علي بن الحسين، امام سجاد (ع)

په امالي صدوق، احتجاج طبرس، لهوف سيد بن طاؤس او د مجلسي بحار کښې روايت راغلے: کله چې د اهلبيتو بنديان يې شام ته راوستل او د جومات په استانه کښې د

۱. د فرات تفسير کښې په ۱۲۲مخ، دوه روايتونه دي، چې دا هم پکښې يو د، خصال صدوق، اووم څپرکے، ۱۱۳حديث، کنز الفوائد ۲۳۷مخ، بحارالانوار دويم ټوک ۲۱۴مخ، ۳۵ټوک ۲۰۹ مخ، له امالي صدوق څخه نقل شوے امالي، ۲۱۹مخ.

بنديانو په ځاې کښې يې واچول، او علی بن الحسين(ع) چې په هغه وخت کښې بالغ او ښکلے ځوان ؤ، هم په بنديانو کښې ؤ، يو شامي سړے هغوي ته راغے او ويې ويل: دخداې ستاينه او مننه چې تاسو يې ووژلې او نابود يې کړئ او د فتنې بوټې يې له بيخه وايستل، هغه له هيڅ ډول کنځلو او بدو ردو ډډه وکړه.

کله يې چې خبرې ختمې شوې، امام علی بن الحسين ورته وويل: اې شيخه! آيا قران دې لوستلے دے؟ ويې ويل: هو، ويې فرمايل: آيا دا آيت دې لوستلے دے: "قُلْ لا أسئَلُكُم عليه أجْراً إلا المُؤدةَ فی القُربی" ووايه، زۀ له تاسو له خپلووانو له دوستۍ پرته هيڅ اجر نه غواړم (شوری/۲۳)

بوډا وويل: دا مې لوستلې دے.

ويې فرمايل: آيا د متعال خداې دا وينا دې هم لوستلې ده: وَ آت ذا القُربی حَقّهُ، د خپلوانو حق ادا کړه، او دا آيت هم: وَ اعْلَمُوا أنّمَا غَنِمْتُمْ مِنْ شَیءٍ فَإنّ للّهِ خُمسَهُ و للرّسُولِ وَ لِذِی القُبری، پوه شئ هر ډول غنيمت چې لاسته راوړئ د هغه خمس د خداې، د پيغمبر او ذی القربی(خپلوانو) لپاره دے، (إسْراء/۲۶ او انفال/۴۱)

بوډا وويل: هو!

نو بیا یې وفرمایل: په خدای قسم! په دغو آیتونو کښې خپلوان مونږ یوو آیا د خدای دا کلام دې لوستلے چې فرمایي: "إنّما یُرِیدُ اللهُ لِیُذهِبَ عَنکُمُ الرِجسَ أهْلَ البَیتِ وَ یُطَهِرکُمْ تَطْهِیْراً" نو مونږ هماغه اهلبیت یوو چې خدای د تطهیر آیت سره مونږ ته دغه ځانګړنه وبخښله.

بوډا وویل: تا ته د خدای قسم وي، آیا تاسو هماغه یئ؟

ویې فرمایل: زمونږ د نیکه پیغمبر اکرم(ص) په حق مونږ بې له شکه هماغه پخپله یوو.

بوډا پر هغه څه چې ویلي یې وو پښیمانه، خیجل او چپ شو، بیا یې سر آسمان ته پورته کړ او ویې ویل: "خدایه! زۀ له دوئي سره له دښمنۍ توبه کوم او تا ته ستنیږم، زۀ د محمد او آل محمد(ص) له دښمنانو، که انسانان وي که پیریان، بیزاري کوم او ستا خوا ته ستنیږم ما قران لوستل خو تر ننه پورې مې دا حقیقت نه ؤ درک کړے.[1]

## ۵. زید ین علی بن الحسین(ع)

ابوالجارود وایي: زید بن علی بن الحسین وویل: ځینې کم عقل خلک ګومان کوي، چې خدای د "إنّما یُرِیدُ اللهُ لِیُذهِبَ

۱. امالي صدوق، مجلس ۳۱، حدیث۳، احتجاج طبرسي، ۱۵۷مخ، لهوف سید بن طاؤس او بحار الانوار ۴۵ټوک ۱۵۲ او ۱۲۲مخونه.

عَنكُمُ الرِجسَ أهْلَ البَيتِ وَ يُطَهِرکُمْ تَطْهِيْراً" آيت د خداې د رسول د ماندينيو په هکله نازل کړے، هغوي دروغ ويلي او ګناه يې کړې ده، په خداې قسم که مقصد يې د پيغمبر اکرم(ص) ښځې وي، فرمايل به يې: "لِيُذهِبَ عَنكُنُ الرِجسَ وَ يُطَهِرکُنّ تَطْهِيْراً" يعنې د مونث د خطاب ضمير به يې راوړل، لکه څنګه چې فرمايلي يې دي "وَاذکرنَ ما يُتْلى فى بيوتِکُنّ" او "لاتبرجن" او "لَسْتُنّ کأحَدٍ مِنَ النِساءِ"[۱].

*Download From; Aghalibrary.com*

۱. احزاب ۱۴، ۳۳، ۳۲ آيتونه.